
مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد


ژباړن: سیلانی

۲۰۲۶/۰۹/۰۳

# د احمدشاه بابا د ۷ نویو موندل شویو فرامینو پېژندنه او شننه



تصویر سند شمارهٔ یک



تصویر سند شمارهٔ یک

قاینات ته د احمدشاه بابا د فرامینو پېژندنه او شننه

پر قاینات د درانیانو د واکمنې او د نویو موندل شوو اسنادو پېژندنه

لیکوالان: محمدرضا سروش او رقیه زعفرانلو (د جنوبي خراسان د فرهنګي میراث عمومي اداري د لرغونپوهنې لوړپوړي کارپوهان)

ژباړن: سیلانی

لنډیز

تاریخي اسناد په ډېرو تاریخي څېړنو کې د څېړونکو له پاره د لارښود په توګه کار کوي، آن په ځینو مواردو کې د مؤرخ نظر سمولی شي او پر پټو ساتل شوو حقیقتونو پرده پورته کولی شي. څرنګه چې د قهستان سیمې چې وروسته



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

يې يوه برخه قاينات ونومول شوه، په اړه د لرغونپوهنې او تاريخ د علومو موندنې ډېرې لږې دي، نو د دې سيمې په مطالعاتو کې د تاريخي اسنادو څېړنه مهم رول لري.

موخه

په دې مقاله کې د احمدشاه دراني او د هغه د دوو ځايناستو اووه حکومتي فرمانونه بيا لوستل شوي او تحليل شوي دي. دغه فرمانونه ښيي چې د نادرشاه له مړينې وروسته د آقامحمدخان قاجار تر واکمنېدو پورې د قاينات سيمه له داسې بدلونونو سره مخ شوې وه چې په تاريخي سرچينو کې يې نښې ډېرې لږې ليدل کېږي. سره له دې چې د ملا محمدباقر آيتي په څېړ ځينو سيمه‌ييزو تاريخليکونکو د دغو حکومتي فرمانونو ځينو مواردو ته اشاره کړې ده، دا فرمانونه د لومړي ځل لپاره د دې مقالې د ليکوالانو لهخوا معرفي او بيا لوستل شوي دي.

د څېړنې تګلاره او مېتود

دا مقاله د کتابتوني څېړنې پر مېتود ليکل شوې او د اسنادو د پېژندنې لپاره په کې له توصيفي تګلارې څخه کار اخيستل شوی دی.

د څېړنې موندنې او پايلې

د دغو اسنادو له مخې، قهستان د احمدشاه دراني د واکمنۍ پر مهال (۱۱۶۱–۱۱۸۶هـ.ق.) د دراني حکومت تر واک او مالياتي تابعيت لاندې و، حال دا چې تر دې وړاندې داسې انګېرل کېده چې په ياده تاريخي دوره کې پر دې سيمه د عَلم کورنۍ واکمنه وه.

کليدي کلمې: قاينات، احمدشاه دراني، اميرعلم خان، ميرزا خان، قهستان، جنوبي خراسان.

سريزه

د تاريخي اسنادو څېړنه او پېژندنه د تاريخ د ناڅرګندو اړخونو په روښانولو کې خورا مهم او اغېزناک رول لري. د جنوبي خراسان سيمه هم له دې امره مستثنی نه ده؛ تاريخي اسناد کولی شي هغه خلاوې تر يوه بريده ډکې کړي چې د دې سيمې تاريخي او لرغونپوهنيزې څېړنې ورسره مخ دي. له نېکه‌مرغه، د دې سيمې خلکو د پرله‌پسې نسلونو په اوږدو کې د تاريخي اسنادو د ساتنې او خونديتوب لپاره هڅې کړې دي او په دې توګه يې په شعوري يا نا شعوري توګه د خپلې سيمې فرهنګ ته ستر خدمت کړی دی. په ځانګړې توګه، د سيمې په اصيلو کورنيو کې د تاريخي اسنادو د ساتنې دود په ښه توګه پالل شوی دی. د ګزيک کلي فاضلي کورنۍ هم له هغو کورنيو څخه ده چې خپل تاريخي اسناد يې خوندي ساتلي دي. هغه اسناد چې په دې مقاله کې معرفي کېږي، د همدې کورنۍ د يوه غړي لهخوا د مقالې د ليکوالانو په واک کې ورکړل شوي دي. څرنګه چې دغه اسناد د درانيانو د واکمنۍ پر مهال د سيمې د تاريخ په اړه نوي او په زړه پورې معلومات لري، نو د څېړونکو د ځانګړې پاملرنې وړ ګرځېدلي دي.

د دغو اسنادو څېړنه د افشاريانو، زنديې کورنۍ او وروسته د قاجاريانو د حکومتونو ترمنځ د سياليو په اړه په زړه پورې تاريخي حقايق راڅرګندوي. د نادرشاه تر مړينې وروسته په ټول ايران او په ځانګړي ډول په خراسان کې د رامنځته شوو ګډوډو ټولنيزو او سياسي حالاتو له امله، د دې تاريخي پېر د ټولنيز او سياسي وضعيت په تړاو ګڼې پوښتنې او ناڅرګندتياوې شته. دغه پېر د نادرشاه له مړينې څخه پيلېږي او د آقامحمدخان قاجار تر واکمنېدو پورې دوام کوي. دا اسناد د همدغو تاريخي ناڅرګندتياوو يوه برخه، لږ تر لږه د ايران د جغرافيايي قلمرو په يوې محدودې سيمې، يعنې قايناتو (جنوبي خراسان) کې، روښانوي. دا په داسې حال کې ده چې ډېرو تاريخي سرچينو د دې دورې پېښې، په تېره بيا پر قايناتو د احمدشاه دراني او د هغه د زامنو د واکمنۍ موضوع، له پامه غورځولې او په اړه يې څه نه دي ليکلي.

د څېړنې فرضيې

۱ .احمدشاه دراني د خپلې واکمنۍ پر مهال د قايناتو سيمه تر طبس ګلشن پورې تر خپل واک لاندې درلوده.

۲ .د احمدشاه دراني د زامنو د واکمنۍ پر مهال د دې کورنۍ واک يوازې د سُنيخانې پر جلګې (درميان) پورې محدوده شوې وه.

۳ .احمدشاه دراني پر قايناتو د خپلې واکمنۍ پر مهال د کرکېچ د کمولو سياست غوره کړی و او کله چې د پېښو طوفان آرام شو، دغه سيمې يې بېرته سيمه‌ييزو واکمنانو ته وسپارلې.

۴ .د عَلم کورنۍ د سيمې يوازينۍ بلامنازعه واکمنه کورنۍ نه وه.

۵ .د سيمې د واکمنو کورنيو سره د سياليو په بهير کې، د عَلم کورنۍ د مرکزي حکومت (قاجاريانو) په ملاتړ په تدريجي توګه د سيمې پر يوازينۍ بلامنازعه واکمنې کورنۍ بدله شوه.

احمد خان ابدالي (احمدشاه دراني)

احمد خان د زمان خان زوی و. زمان خان د هرات واکمن او په ابداليو کې د سدوزيو د ټبر غړی و. احمد خان په ۱۱۳۵هـ.ق. کال کې نړۍ ته سترګې پرانيستې (حبيبي، ۱۳۴۹: ۸۷). کله چې نادرشاه افشار د چارو واګې په لاس کې واخيستې، هغه ټبرونه يې له واکه وغورځول چې تر دې وړاندې يې په هرات کې امارت درلود، خو د ابدالي ټبرونو ګڼ مشران او جنګيالي يې په خپل پوځ کې وګومارل.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولۍ

په دغو کسانو کې احمد خان ډېر ژر د نادرشاه پام ځان ته ور واړاوه او د هغه د مېړاني او پوځي مشرتابه آوازه خپره شوه. وروسته په نادري پوځ کې د ابدالي ځواکونو مشري ور وسپارل شوه. د نادرشاه تر وژل کېدو وروسته، احمد خان افغان مشران او جنګيالي له ځان سره کړل او د کندهار پر لور وخوځېد. څه موده وروسته افغانانو د همدې ښار په شاوخوا کې هغه د پاچا په توګه وټاکه (د ۱۱۶۰هـ.ق. کال شعبان). نوموړي ځان «احمدشاه دُرِّ دُرّان» ونوموه او له هغه وروسته د ابدالي ټبر نوم په «دراني» بدل شو (شيرازي، ۱۳۷۹: ۲۲–۲۳).

احمد خان هرات ته ځانګړې پاملرنه کوله، هغه ښار چې وروسته د ايرانيانو، افغانانو او انګرېزانو ترمنځ د شخړې پر ډګر بدل شو. نوموړي هرات پر خراسان او ماوراءالنهر د خپلو بريدونو اصلي پوځي اډه ګڼله. څرنګه چې احمد خان د نادرشاه په دربار کې د خپلې دندې په اوږدو کې د هغه له اداري او پوځي جوړښت سره ښه بلد شوی و، نو د خپل قلمرو اداري نظام يې هم د نادري نظام پر بنسټ تنظيم کړ. هغه فارسي د دولت رسمي او اداري ژبه اعلان کړه او آن د صفوي واکمنۍ لقبونه او دولتي منصبونه يې هم راخپل کړل.

که څه هم ځينې ليکوالان د احمدشاه دولت د مغولي او صفوي اداري جوړښتونو او د افغانانو د قبيلوي فيوډالي نظام ګډه بڼه ګڼي، خو دا موضوع د ځانګړې پاملرنې وړ ده چې احمدشاه نه يوازې په اداري چارو، بلکې په پوځي چارو کې هم د صفوي تشکيلاتو پيروي کوله. نوموړي آن د «قزلباش» په نوم يو پوځ جوړ کړ او د هغه په تنظيمولو کې يې له تقي خان شيرازي څخه مرسته وغوښته(شيرازي، ۱۳۷۹: ۲۳).

احمدشاه بېلابېلو سيمو ته ګڼ پوځي لښکرکشۍ وکړې چې غزني، کابل، پېښور، لاهور، هرات، بلوچستان، نيشاپور، مشهد او د هند ځينې سيمې په کې شاملې وې. قاينات هم يو له هغو سيمو څخه وه چې احمدشاه ونيوله او تر خپل واک لاندې يې راوسته. نوموړي د نادرشاه افشار له لمسي شاهرخ شاه سره، چې په مشهد کې واکمن و، په دې شرط سوله وکړه چې سکه او خطبه به د احمدشاه په نوم وي او د جام، باخرز، تربت، خواف او ترشيز ولايتونه به هم هغه ته سپارل کېږي. احمدشاه له دې هوکړې سمدستي وروسته دغه سيمې له هرات سره يوځای کړې. تر دې وروسته شاهرخ خپلې سکې په لاندې ډول ضرب کړې:

يافت از الطاف احمد پادشاه

شاهرخ بر تخت شاهی تکيه‌گاه

د احمدشاه دراني تر مړينې وروسته، د هغه زوی تيمورشاه واک ته ورسېد او تر ۱۲۰۷هـ.ق. کال پورې يې دوه دېرش کاله حکومت وکړ (شيرازي، ۱۳۷۹: ۱۳۴). د تيمورشاه تر مړينې وروسته، د هغه د ځايناستې پر سر د زامنو ترمنځ ګڼې کورنۍ جګړې ونښتې. د هغو اسنادو له مخې چې په دې مقاله کې معرفي کېږي، د تيمورشاه او د هغه د ځايناستي، زمان شاه، د واکمنۍ پر مهال د درانيانو حکومت لا هم د قايناتو پر ختيځو برخو واک درلود.

د افشاري دورې په وروستيو کې د درانيانو له واکمنۍ سره هممهاله د قايناتو واکمنان

د خُزيمه ټبر د صفوي شاه سلطان حسين د واکمنۍ له وروستيو راهيسې د خراسان په سوېلي سيمو کې ځواک وموند او له هغه وروسته يې د اوږدې مودې لپاره د دې سيمې واک په ميراثي توګه په لاس کې وساته. د دې کورنۍ لومړنی غړی چې نوم يې د سيمې په تاريخ کې ياد شوی، «اسماعيل خان خُزيمه» دی. نوموړی په حقيقت کې د خُزيمه کورنۍ د بنسټ‌ايښودونکي په توګه ګڼل کېدی شي؛ ځکه د همدې شخصيت له زماني څخه د دې کورنۍ د ځواکمنېدو او اهميت بهير پيل شو. د دې کورنۍ غړو د ايران په سياسي چارو او ټولنيزو پېښو، په تېره بيا د خراسان په سوېل کې، مهم او حساس رولونه ولوبول. د دوی دغه ځواک او واکمني د ايران د اسلامي انقلاب تر بريالیتوب پورې دوام وکړ. د خُزيمه ټبر له خورا بانفوذه شخصيتونو څخه د اسماعيل خان خُزيمه، لومړی امير علم خان، درېيم امير علم خان، امير اسماعيل خان شوکت‌الملک، امير محمدابراهيم خان علم او اسدالله علم نومونه يادولی شو (غوث، ۱۳۹۵: ۵۷).

۱ ــ لومړی علم خان

لومړی امير علم خان، چې په «وکيل‌الدوله» ملقب و، د امير اسماعيل خان زوی و. نوموړی په ځوانۍ کې د نادرشاه له پوځ سره يوځای شو او ډېر ژر يې د خپلې مېړانې او ځيرکتيا له امله شهرت ومونډ. د هغې دورې په تاريخي سرچينو کې د هغه نوم په وار وار ياد شوی دی. امير علم خان د خُزيمه ځواکونو په مشرۍ د ايران په ختيځو او لوېديځو سيمو کې د نادرشاه ترڅنګ په ګڼو جګړو کې برخه واخيسته. د هغه مېړانې او پوځي وړتيا نوموړی د نادرشاه د غوره افسرانو په کتار کې ودروه (آيتي، ۱۳۷۱: ۱۲۶).

د نادرشاه تر مړينې وروسته، امير علم خان په مشهد او بيا په هرات کې د احمدشاه دراني پر وړاندې ودرېد او د لنډې مودې لپاره يې دغه سيمې تر خپل واک لاندې راوستې، خو په پای کې احمدشاه دراني د لوی خراسان د هغې پراخې برخې سيمې، چې اوس د ايران په قلمرو کې پرتې دي، له خپل حکومت سره يوځای کړې.

احمدشاه دراني د خُزيمه د امير، لومړی امير علم خان، په ماتولو سره د سيستان لوېديځې برخې ونيولې. امير علم خان هغه مهال، يعني په ۱۱۷۳هـ.ق. (۱۷۶۱م.) کال کې، ټول سيستان، خراسان او بلوچستان تر خپل قلمرو لاندې راوستي وو (آيتي، بهارستان، ۱۳۴۲: ۴۲)



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د لومړي امیر علم خان تر وژل کېدو وروسته، د هغه ورور امیر معصوم خان د کلا کیلي، خان ابدالي ته وسپارلې او ځان یې هغه ته تسلیم کړ. احمدشاه هغه وبښه، خو امیر معصوم خان د قاین د امیر کېدو وړاندیز ونه مانه. له همدې امله د امیر علم خان زوی د دې سیمې د واکمنۍ لپاره وټاکل شو (محجّهزاده، ۱۳۷۸: ۱۵۱).

۲ ــ امیر علي خان خُزیمه

امیر علي خان، د امیر علم خان لومړي زوی، په قایناتو کې د خُزیمه کورنۍ امارت خپل پخواني حالت ته راوګرځوه. د هغه امارت د زندي لړۍ د خانانو لهخوا په رسمیت وپېژندل شو. نوموړی د خپلې زماني د خراسان له مخکښنو او نومیالیو شخصیتونو څخه ګڼل کېده. د ایران پر پاچاهۍ د زندیانو او قاجاریانو ترمنځ د شخړو پر مهال، امیر علي خان د آقامحمدخان قاجار پر وړاندې د لطفعلي خان زند ملاتړ وکړ. په ۱۲۰۵هـ.ق. کال کې، کله چې لطفعلي خان زند له آقامحمدخان څخه ماتې وخوړه، امیر علي خان هغه ته په قایناتو کې پناه ورکړه (محجّهزاده، ۱۳۷۸: ۱۵۱). خو کله چې قاجار خان پر زندیي کورنۍ بریالی شو او خراسان ته ننوت، امیر علي خان هم د خراسان د نورو مشرانو په څېر له قاجار پاچا سره خپله وفاداري اعلان کړه (محجّهزاده، ۱۳۷۸: ۲۶۶).

۳ ــ دویم امیر علم خان

دویم امیر علم خان، د خپل پلار تر ځایناستي کېدو مخکې، د زندیي پوځ د یوه قوماندان په توګه په کرمان کې د لطفعلي خان په پوځي مبارزو کې خدمت کړی و. د هغه د واکمنۍ دوره د فتحعلي شاه قاجار له پاچاهۍ سره هممهاله وه. فتحعلي شاه قاجار د قایناتو د امارت رسمي واک د خُزیمه کورنۍ غړي دویم امیر علم خان ته سپارلی و. د سیمهییز تاریخ او د درانیانو له دورې سره د هممهاله تاریخي فرمانونو له مخې، د خُزیمه کورنۍ ترڅنګ نورو امیرانو هم د قایناتو په سیمه کې واک درلود، چې په راتلونکو برخو کې به ورته اشاره وشي:

۴ ــ میرزا محمد باقر درمیاني

میرزا محمدباقر خان د محمدرفیع (لامع) درمیاني زوی چې په ۱۱۳۷هـ.ق. کال کې زېږېدلی و. د نادرشاه د واکمنۍ پر مهال، د درمیان سیمې او د قایناتو د سُنيخانې د حوزې واکمني هغه ته وسپارل شوه. نوموړی په دې هم مشهور دی چې پر هندوستان د نادرشاه د برید پر مهال یې د هغه ملګرتیا کړې وه. ویل کېږي چې میرزا باقر خان د نادرشاه تر وژل کېدو وروسته (۱۱۶۰هـ.ق.) د فورګ کلا په جوړولو پیل وکړ. دا کلا له پوځي او جګړهییز پلوه ځانګړې اهمیت لري او پر داسې لوړ ځای جوړه شوې چې پر شاوخوا سیمه بشپړ واک او څار لري (درمیاني، ۱۳۶۵: ۸۸).

د هغه دویم سند له مخې چې په دې مقاله کې معرفي شوی، میرزا باقر خان پر سیمه د احمدشاه دراني د واکمنۍ پر مهال له ځواک او نفوذ څخه برخمن و؛ لکه څنګه چې په دې فرمان کې هغه ته د «عاليجاه، رفیعجایګاه، امیرالامرای عِظام...» په لقبونو خطاب شوی دی. په دغه سند کې میرزا باقر د قایناتو د واکمن او د قاین د سُنيخانې د واک او اختیار د خاوند په توګه معرفي شوی دی.

لکه څنګه چې د حکومتي فرمان له متن څخه څرګندېږي، احمدشاه دراني میرزا باقر خان د قاین سیمې د پخواني واکمن او د هغې د حکومتي چارو د واک او اختیار د خاوند په توګه معرفي کړی دی. داسې ښکاري چې په فرمان کې پر دې موضوع ځانګړې ټینګار هم شوی و. میرزا باقر خان د احمدشاه دراني او د هغه د زوی تیمورشاه له واکمنۍ سره هممهاله ژوند کوه؛ هغه پېر چې دراني حکومت ظاهري ثبات درلود او د خُزیمه کورنۍ هم لا د سیمې پر بلامنازعه واکمني کورنۍ نه وه بدله شوې. له همدې امله داسې اټکل کېږي چې میرزا باقر خان به، د خپلو هغو زامنو او لمسیانو خلاف چې دېرې وخت له یادې کورنۍ سره په شخړو کې ښکېل و او آن ځینو یې په همدې لاره کې خپل ژوند له لاسه ورکړ، نسبتاً ارامه دوره تېره کړې وي (درمیاني، ۱۳۶۵: ۸۹ او ۹۶).

۵ ــ امیر علي مردان خان زنګویي

زنګویان د شیباني ایل یوه څانګه وه. د ځینو څېړونکو په وینا، دوی له هغو عربانو څخه و چې د عباسي خلیفهګانو په دوره کې ایران ته کډه شوي او د صفویانو د واکمنۍ پر مهال د قهستان سیمې ته لېږدول شوي و. دغه ټبر د طبس ګلشن په اړوندو سیمو کې په «عربآباد دیهوک» کې مېشت و. امیر علي خان مردان زنګویي د دې کورنۍ لومړنی غړی و چې د طبس واکمنۍ ته ورسېد. نوموړي په ۱۱۸۳هـ.ق. کال کې په ډېرې مېړانې د احمد خان دراني پر وړاندې مقاومت وکړ او د هغه پوځ ته یې درانه تلفات واړول. د دغو نښتو په بهیر کې عليمردان خان د افشاري شهزادهګانو په مرسته په بېلابېلو جګړو کې د احمد خان پر ضد وجنګېد او په پای کې د احمد خان د ځواکونو لهخوا ووژل شو (زنګویي، د فرهنګي څېړنو دفتر، ۱۳۸۸).

سند یا متن پوهنه

د دې مقالې لیکوالانو اووه تاریخي فرمانونه معرفي کړي دي چې له هغو څخه پنځه فرمانونه د لومړي ځل لپاره بیا لوستل شوي او معرفي شوي دي. دغه پنځه فرمانونه احمدشاه دراني پورې اړه لري او له دې ډلې درې فرمانونه نوي موندل شوي اسناد دي.

څلورم سند د ساداتو له ډلې د علامه عبدالعلي بیرجندي په اړه یو فرمان دی.[1] دغه سند په ۱۳۸۱هـ.ش. کال کې د بُجد په کلي کې د نوموړي د آرامځای د بیژندنې لپاره د یوې څېړنیزې پروژې د پلي کېدو پر مهال په همدې کلي کې وموندل شو. دا فرمان تر دې وړاندې هم د مقالې د لیکوالانو لهخوا د آستان قدس رضوي د اسنادو د دفتر د مقالو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ټولګي په څلورم ټوک کې معرفي شوی و؛ خو څرنګه چې د اوسنی مقالې له موضوع سره يې مستقيم تړاو درلود، يو ځل بيا ترې ګټه اخيستل شوې ده.
پنځم سند د محمدحسين آيتي له بهارستان کتاب څخه را اخيستل شوی دی. آيتي په دې ځای کې هم د فرمان د صادرونکي واکمن نوم نه دی ياد کړی؛ خو د شته شواهدو او قراينو له مخې، دغه فرمان په احمدشاه دراني پورې اړه لري. شپږم سند د احمدشاه دراني د زوی تيمورشاه فرمان دی او اووم سند د تيمورشاه د زوی زمان شاه په دورې پورې تړاو لري.
د اسنادو پېژندنه او بيا لوستنه
لومړی سند
١ .د سند موضوع: د سيد علي جزيکي لمسي، ميرزا قاسم، ته د ماليې تخفيف
٢ .د سند نېټه: ١١۶٨هـ.ق.
٣ .د مُهر متن: «يا هو، الحُکمُ لله، احمدشاه دُرِّ دُرّاني، يا فتّاح، ١١۶۵«
۴ .د سند متن:
بسم الله خير الاسماء
بسم الله الرحمن الرحيم
اعوذ بالله تعالی شأنه
شاهانه فرمان صادر شو:
د قاين او طبسِ مسينا د الکاوو حاکم او عاملان، چې د شاهنشاهي شفقتونو او پېرزوينو له امله سرلوړي شوي دي، خبر دې وي چې د پخوانيو جنتمکانو خانانو د حکم له مخې، هر کال دوه تبريزي تومان د مرحوم سيد علي جزيکي په ګټه د مالياتي تخفيف په توګه ټاکل شوي و. اوس چې ياد مرحوم وفات شوی او د هغه لمسی، د شرافت او نجابت پناه، عالي‌مقام ميرزا قاسم، د علماوو او فاضلانو له ډلې څخه دی، د هغه د حال رعايت او پالنه هم له لازمو چارو څخه ده.
له همدې امله مو د روان مبارک «ايت‌ئيل» کال د وروستی درې‌مياشتنی دورې له پيل څخه، هر کال دوه تبريزي تومان د ياد شوي کس له ديواني ماليې څخه د تخفيف او تصديق په توګه مقرر کړل، څو نوموړی دغه پيسې هر کال د خپل ژوند پر اړتياوو ولګوي، د ديني علومو پر زده‌کړه بوخت وي او د اعليحضرت اقدس دعا وکړي.
لازمه ده چې هر کال له ياد شوي کس څخه دغه مقدار ونه غوښتل شي؛ بلکې د واجب‌الاطاعه فرمان په نقل کې د درج شوي قبض له مخې دې دغه مبلغ د تخفيف تر عنوان لاندې په خپلو حسابونو کې د لګښت په توګه منظور کړي او کال په کال دې د نوي فرمان غوښتنه نه کوي.
د اعلی ديوان ستر او درانه مستوفيان دې د دې مبارک او واجب‌الاطاعه فرمان نقل په اړوندو دفترونو کې ثبت کړي او د مقررۍ له مخې دې هر کال ياد مبلغ د قاين او طبس د حاکم او عاملانو په حساب کې د لګښت په توګه منظور او د هغوی پر ذمه حساب کړي.
فی ٢۵ شهر صفر سنه ١١۶٨
د سند د متن په اړه توضيحات
٢ .په دغه فرمان کې قاين او طبس د دوو جلا «الکاوو» يا اداري واحدونو په توګه ياد شوي دي.
٣ .له دې اداري وېش څخه داسې ښکاري چې طبسِ مسينا هم د قاين په څېر اهميت درلود. د طبسِ مسينا له تاريخي مخينې پرته، ښايي د احمدشاه دراني د حکومت په جغرافيايي وېش کې د دې سيمې د اهميت بل لامل د هغه د واکمنی قلمرو ته د طبسِ مسينا نږدېوالی و.
۴ .د «شاهنشاهي» کلمې کارول داسې څرګندوي چې احمدشاه دراني ځان د نادرشاه ځايناستی باله او لږ تر لږه د احمدشاه دراني د واکمنی په لومړيو کلونو کې له ايران څخه د يوه خپلواک حکومت په توګه د افغانستان د جوړېدو موضوع لا نه وه مطرح شوې؛ ځکه د سند په دويمه کرښه کې د پيسو واحد «تبريزي تومان» ياد شوی دی.
د نادرشاه د وژل کېدو پر مهال هم «... افغان او ازبک پوځي واحدونه د نورمحمد تر قوماندې او د احمد خان ابدالي تر مرستيالۍ لاندې سره يوځای شول.
دغو دواړو کسانو، چې د خپل وژل شوي پاچا ياد ته وفادار و، وسلې ته په لاس اچولو سره هڅه وکړه چې د شاهي خېمو د لوټ او تالان مخه ونيسي. دا وفادارانه اقدام څرګندوي چې افغانانو په هغه وخت کې په هېڅ ډول ځانونه د يوه بل هېواد خلک نه ګڼل .د احمدشاه په يوه فرمان کې، چې د ١١۶۶هـ.ق. کال د شوال پر ١۶مه (١٧۵٣م.) صادر شوی، آن د «افغانستان» نوم ته هم اشاره نه ده شوې. احمدشاه په دغه فرمان کې هيله څرګندوي چې: «د پروردګار په غوښتنه... ټول ايران به د خپل فرمان تابع او يو موټی کړم...» (محجّه‌زاده، ١٣٧٨: ٢۶١). نوموړي غوښتل چې ټول خراسان له خپلې پاچاهۍ سره يوځای کړي او احتمالاً تر هغه وروسته د ايران نورې برخې هم تر خپل واک لاندې راولي او په دې توګه د نادرشاه ستروا‌کي بيا ورغوي...» (محجّه‌زاده، ١٣٧٨: ٢۶۴).



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

۵ .میر سید علي جزیکي د ګزیک د فاضلي کورنۍ له نیکونو څخه و. نوموړي او پلرونو یې د سیمې د پخوانیو واکمنانو (خانانو) له زماني راهیسي له مالیاتي تخفیف څخه ګټه اخیسته. د ګزیک له فاضلي کورنۍ سره د شاه عباس صفوي د یوه فرمان موندل کېدل هم دا موضوع تأییدوي.
۶ .احمدشاه دراني ځان د علماوو او فاضلانو د حال رعایت او پالنې ته مکلف ګاڼه.
۷ .د دیني علومو زده‌کړه د دراني شاه د پاملرنې وړ وه.

د لومړۍ برخې پای،
لیکنه نورې برخې هم لري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ